# پرمختیا

اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

۹۵ مه گڼه • پنجشنبه • د وږی ۷مه • ۱۳۹۸




۵

# په ننگرهـــار کې د ۲۱ میلیونه افغانیـــو په ارزښت د ۳ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو




۸

## تکمیل کار پنج کانال آبیاری به ارزش ۹.٤ میلیون افغانی در هرات



۹

## په ننگرهار کې د ۲٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۹۵۰ متره استنادي دیوال تړون لاسلیک شو

# په غزني کې د ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ٤ پرمختیایي پروژې بشپړې شوې

۳/ وږي/ ۱۳۹۸

د افغانستان د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د غزني ولایت د ناور ولسوالۍ په سردریا، شایګان او قماش و عمران کلیو کې د نږدې ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ٤ پرمختیایي پروژې بشپړې شوې په دې ترڅ کې د دریو سر پټو کرنیزو کانالونو او د یوې خاه د ایستلو پروژې ګټې اخستنې ته وسپارل شوې، په ټوله کې د کانالونو اوږدوالي ۱۰۰۰ متره و، او د کار په ترڅ کې یې ٤۰۰۰ فني او نا فني کارګرو ته د کار زمینه برابره شوې وه. باید ووایو چې ددې پروژو په بشپړتیا سره به ۱۸۱۰ جریبه کرنیزه ځمکه خړوبه شي او ۸۵ کورنۍ به یې له ګټې برخمنې شي.






# په جوزجان کې د ٤ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲ پرمختیایي پروژې ګټې اخستنې ته وسپارل شوې

۲/ وږي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د جوزجان ولایت د شبرغان ښار په بابه علي او چوباش پایین کلیو کې د څه باندې ٤ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲ پرمختیایي پروژې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې. یوه پروژه د د ۳٦۰ متر مکعب په ظرفیت سره د اوبو زیرمه او بله یې ۳۱۹۱ مترو په اوږدوالي د څښاک د پاکو اوبو شبکه ده ددې پروژو په بشپړیدو سره ۵۸۱ کورنیو د څښاک پاکو اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.

# په بلخ ولایت کې د ٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه لومړني ښوونځي جوړولو چارې روانې دي

۲/ وږي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د بلخ ولایت په علي مردان بیګ کلي کې د ٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه لومړني ښوونځي جوړیدلو چارې ۷۰ سلنه مخکې تللې دي. دا ښوونځي به په ۳۰۸ متر مربع ځمکه کې جوړیږي چې ٦ ټولګي د اړتیا وړ تشنابونه او یوه د څښاک د پاکو اوبو څاه به ولري. ددې ښوونځي په جوړیدو سره به تر ۱۷۹ زده کونکي ګټه واخلي.



# په لوگر کې د ٦.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه لومړني ښوونځي د جوړېدو چارې روانې دي

۲/ وري/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون د اقرا پروگرام له لوري د لوگر ولایت په خوشي ولسوالۍ کې د ٦.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د خواجه لغوي د نجونو د لومړني ښوونځي جوړېدو چارې ٦۰ سلنه مخکې تللې دي.

دا ښوونځی ۱۰ ټولگي ۳ تشنابونه، دوه اداري خونې او یوه د څښاک د پاکو اوبو څاه لري.

ددغه ښوونځي په جوړېدو سره به ۲۸۷ زده کونکي د زده کړو له گټې برخمن شي.





# په میدان وردگ کې د ۲.٤ میلیونه افغانیو په ارزښت ۳ پرمختیایي پروژې بشپړې شوې

۲/ وري/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروگرام له لوري د میدان وردگ د بهسودو او جلریز ولسوالیو په قول سلطان، قول سید او سینگار کلیو کې د ۲.٤ میلیونه افغانیو په ارزښت درې پروژې چې یوه یې د کرنیزو اوبو شبکه یوه یې د څښاک د پاکو اوبو شبکه او بله یې د څښاک د اوبو یوه څاه گټې اخستنې ته وسپارل شوې.

په ټوله کې به له دې پروژو څخه د یادو کلیو ۱۳۹ کورنۍ گټه پورته کړي.





# په هلمند کې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت یو کرنیز کانال گټې اخستنې ته وسپارل شو

۳/ وری/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروگرام له خوا د هلمند ولایت د ناوې ولسوالۍ دگل محمد لوي په کلي کې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د کر کیلې یو سرپټې کانال گټې اخستنې ته وسپارل شو. دا کانال ۳۰۰ متره اوږد دی او د کار په ترخ کې یې څه باندې ۱۰۳۰ فني او نافني کارگرو ته د کار زمینه برابره شوې وه.

باید ووایو چې یاد کانال به ۲۲۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه خړوبه کړي او ۸۱۳ کورنۍ به ترې گټه واخلي.

# په ننگرهار کې د ۲۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو

۲/ وری/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون د اقرا پروگرام له لوري د ننگرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په گدل کلي کې د نجونو او هلکانو د یوه منځني ښوونځي او د همدې ولسوالۍ په مندرخیلو کې د یوې لیسې جوړولو کار د ۲۱ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شو.

دا ښوونځي به ددریو میاشتو په اوږدو کې په یوه، یوه پوړ کې جوړیږي، لیسه به ۸ ټولگي، ۵ تشنابونه او یوه د څښاک د اوبو څاه ولري او منځني ښوونځي به ٦ ټولگي ۳ تشنابونه او یوه د اوبو څاه ولري.



# په لوګر ولایت کې د ٤.٣ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه لومړني ښوونځي د جوړېد چارې روانې دي

۲/ وږي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون د اقرا پروګرام له لوري ددستګیر کوچي د ایلبند د پرمختیایي شورا په مټ د لوګر په برکي برک ولسوالۍ

کې د ګرخنده کوچیانو لپاره د ٤.٣ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه لومړني ښوونځي د جوړېدو چارې روانې دي. دا ښوونځي ٦ ټولګي یوه اداري خونه، ۳ تشنابونه او یوه د څښاک د پاکو اوبو څاه لري.

د ښوونځي په جوړېدو سره به یې ۱۸۵ کوچیانې نجونې او هلکان له ګټې برخمن شي.





# په ننګرهار کې د ٤ میلیونه افغانیو په ارزښت یوه پرمختیایي پروژه بشپړه شوه

۳/ وږي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د ننګرهار په کامې ولسوالۍ د ودانیزو چارو د ساتنې او څار د پرمختیایي وجهي نغدي پروګرام له خوا د ٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د کوچ کلي سړک او دوه پلچکونه ورغیدل. دا سړک ۲ کیلو متره اوږدوالی لري او ٥ متره پلن دي غاړو ته یې سنګ کاري شوې او د کار په ترځ کې یې ۱۷۱ فني او نافني کارګرو ته د کار زمینه برابره شوې وه، اوس به د کار په بشپړتیا سره ٥٥٠ کورنۍ له دې سړکه ګټه واخلي.



# په تخار ولایت کې د ۳۵۰ زره افغانیو په ارزښت دوه څاه ګاني ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

۱۳۹۸/ وږي / ٤

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري څه د پاسه د ۳۵۰ زره افغانیو په ارزښت د پاکو اوبو د دوه څاګانو د کیندلو کار د تخار ولایت د بهارک ولسوالۍ په حاجي برګیټ کلي کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. دغه څاه ګانې ٤۰ متره ژوروالی لري. نوموړې پروژې فني او نا فني کارګروته ۲۸ کاري ورځې رامنځته کړې وې له دې څاګانو به ٦۷ کورنۍ ګټه پورته کوي.

# تکمیل کار ساخت ی ک باب مکتب ابتدایی به ارزش ٤ میلیون افغانی در فاریاب

٤ سنبله ۱۳۹۸

کار اعمار یک باب مکتب ابتدایی به ارزش نزدیک به چهار میلیون افغانی زیر چتر پروژه‌ی اقرای برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستای کهنه‌ی قلعه پایان ولسوالی چهار باغ ولایت فاریاب تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

تعمیر این مکتب دارای ٦ صنف درسی، ۳ تشناب و ۲۰۰۰ مترمربع مساحت بوده و با ساخت آن زمینه‌ی فراگیری تعلیم برای دانش آموزان دختر و پسر ۷۵۰ خانواده فراهم شده است.





# په لوګر کې د ٤.٨ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه ښوونځي جوړولو کار روان دي

۵/ وږي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون د اقرا پروګرام له لوري د لوګر د چرخ ولسوالۍ په دشت منګلان کلي کې کې د ٤.٨ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه ښوونځي جوړولو کار روان دي چې ۵۵ سلنه چارې یې بشپړې شوې دي.

دا ښوونځي به ٦ ټولګې، ۳ تشنابونه او یوه د څښاک د پاکو اوبو څاه ولري په دې سره به ٤۵۰ زده کونکو ته د ښوونې او روزنې زمینه برابره شي.

# تکمیل کار پنج کانال آبیاری به ارزش ۹.٤ میلیون افغانی در هرات

٤ سنبله ۱۳۹۸

پنج کانال آبیاری زراعتی به ارزش ۹.٤ میلیون افغانی از سوی برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در قریه‌های رباط میرزاها، رباط پایین، قلعه‌ی جمال، شکیبان مروی و رباط بالای ولسوالی زنده جان ولایت هرات،ساخته و به بهره برداری سپرده شد.

طول مجموعی این کانال‌ها ۵۲۸٦ متر بوده و در جریان کار آن‌ها ۹۵٤۰ روز کاری برای کارگران فنی وغیر فنی ایجاد شده است.

گفتنی است که با ساخت کانال‌های مذکور ۳٦٤٤ جریب زمین زراعتی تحت پوشش منظم آبیاری قرار گرفته است.



# په لغمان ولایت کې د ۳.۲ میلیونو افغانیو په ارزښت دوه پرمختیایي پروژې ګټې اخستنې ته وسپارل شوې

۲۹/ زمري/ ۱۳۹۸

د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د لغمان په قرغیي ولسوالۍ کې د ۳.۲ میلیونو افغانیو په ارزښت دوه پرمختیایي پروژې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې.

یوه پروژه په فیروزاباد کلي کې د ۳۷۰ متره کانال ایستل او بله یې د ۵۵۰ متره کوڅې کانکریټول وو.





# په ننګرهار کې د ۲٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۹۵۰ متره استنادي دیوال تړون لاسلیک شو

۵/ وږي/ ۱۳۹۸

د ننګرهار د هسکې مېنې په کوټوال کلي کې د دغه ولایت د کلیو بیا رغونې او پرمختیا ریاست او اړوندې شورا تر منځ د ۲٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۹۵۰ متره استنادي دیوال تړون لاسلیک شو. په پام کې ده چې ددغه دیوال جوړولو کار په نږدې راتلونکي کې پیل او د ۵ میاشتو په اوږدو کې بشپړ شي.